

سپین غر

د لوړو زده کړو مؤسسه (ننګرهار)

Spinghar Institute of Higher Education (Nangarhar)

# عمومي طب پوهنځی

## General Medicine Faculty

### د طبي لوړو زده کړو معیاري اداره

### A Standard Institution of Higher Education in Medical Sciences

## د عمومي طب پوهنځي لنډه تاریخچه او پېژندنه

سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسې (ننګرهار) عمومي طب پوهنځي په (۳۰/ثور/۱۳۸۸) نېټه د لوړو زده کړو وزارت د حکم پر اساس د فعالیت جواز ترلاسه کړ، چې تر دې دمه یې د معالجوي طب په برخه کې ز رګونه تنه محصلین روزلي او ټولنې ته یې د خدمت په موخه وړاندې کړي دي.

همدا راز د عمومي طب پوهنځي معالجوي طب ډیپارټمنټ فارغان د هېواد په داخل او له هېواد څخه بهر په بېلابېلو روغتونونو کې په په دندو او تخصصي زده کړو بوخت دي.

سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسه(ننګرهار) د عمومي طب پوهنځي د محصلینو د معیاري روزنې او عملي کار لپاره سپین غر مومند پنځوس بستریز معالجوي روغتون لري، چې محصلینو ته د عملي زده کړو ترڅنګ د هېوادوالو لپاره با کیفیته روغتیایي خدمات وړاندې کوي.

عمومي طب پوهنځی د خپلو محصلینو د علمي کچې د لاپیاوړتیا او لوړولو لپاره په تجربوي موادو او وسایلو مجهز لابراتوارونه، په انټرنیټي اسانتیاو برابر کتابتون، کمپیوټرلیب او په عصري ټکنالوژۍ سنبالې تدریسي خونې لري، همدارنګه فعال څېړنیز مرکز هم لري، چې د سیمې په کچه استادان او محصلین په کې څېړنې کوي.

عمومي طب پوهنځی خپلو اهدافو ته د رسېدلو لپاره پینځه کلن ستراتېژیک پلان لري، چې په منظم ډول تطبیق کیږي.

سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسې عمومي طب پوهنځي د معالجوي طب ډیپارټمنټ ټولې چارې د مسلکي او باتجربه کاري ټیم له لورې، د لوړو زده کړو وزارت او سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسې(ننګرهار) د قوانینو مقرراتو، لوایحو او پالِسیو په رڼا کې، پر مخ وړل کیږي.

سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسې عمومي طب پوهنځی غواړي، چې د عمومي طب په برخه کې د باکیفیته تدریس، زده کړه ایزو اسانتیاو او څېړنو له لارې په ملي او سیمه ایزه کچه غوره پوهنځی وپېژندل شي.

سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسې عمومي طب پوهنځی د معیاري تحصیلي نصاب، تدریسي روغتون، مجهزو لابراتوارونو، څېړنیز مرکز او باکیفیته تدریس له لارې د باتجربه او مسلکي استادانو پر مټ ټولنې ته داسې فارغان وړاندې کوي، چې د اړوند سکتور اړتیاوې پوره کړای شي.

# د معالجوي طب ډیپارټمنټ لرلید، ماموریت او اهداف



## لرلید

د عمومي طب پوهنځي معالجوي طب ډيپارټمنت غواړي، چې د معالجوي طب په برخه کې د باکيفيته تدريس، زده کړيزو اسانتياو او څېړنو له لارې د غوره ډيپارټمنټ په توګه وپېژندل شي.

## ماموريت


د عمومي طب پوهنځي معالجوي طب ډيپارټمنټ د معياري تحصيلي نصاب، تدريسي روغتون، مجهزو لابراتوارونو ، څېړنيز مرکز او باکيفيته تدريس له لارې، د باتجربه او مسلکي استادانو پرمټ، ټولنې ته داسې فارغان وړاندې کوي چې د عامي روغتيا سکتور اړتياوې پوره کړای شي.

## اهداف

- د معالجې په برخه کې د محصلينو علمي برنامو او څېړنيزو فعاليتونو پراختيا.
- د محصلينو د معياري تدريس لپاره د اسانتياو رامنځته کول، ساتنه او پراختيا.
- د ډيپارټمنټ د تحصيلي نصاب تطبيق، څارنه او ارزونه.
- د محصلينو د لابراتواري او روغتوني عملي کارونو لپاره د اسانتياو برابرول، ساتنه او پراختيا.
- د ډيپارټمنټ اړوند دکيفيت لوړونې معيارونو تطبيق.
- د ډيپارټمنټ اړوند کارکونکو، استادانو او محصلينو د ظرفيت لوړونې برنامو ايجاد، ساتنه او پراختيا.
- په اسلامي روحيه، طبي اخلاقو او ملي ارزښتونو ته ژمن علمي کادرونو روزنه.
- د معالجوي طب ډيپارټمنټ فارغ بايد د ناروغۍ د تشخيص لپاره د معايناتو د توصيې او تحليل وړتيا ترڅنګ د عملي درملنې وړتيا ولري.
- د معالجوي طب ډيپارټمنټ فارغ بايد د روغتيايي سېستم د شته ستونزو د تحليل او د هغوی د حل وړتيا ولري.
- د معالجوي طب ډيپارټمنټ فارغ بايد په طبابت کې له استعمالېدونکې عصري ټکنالوژۍ سره اشنا او د هغې د مؤثر استعمال وړتيا ولري.

**د طبي لوړو زده کړو معياري اداره**

**A Standard Institution of Higher Education in Medical Sciences**



# اسانتياوې